السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# په حقيقت کې دنيا خوږه او شنه ده، او الله تعالی پکې تاسو مېشتوي، تر څو وګوري چې څه کوئ، نو له دنيا څخه وېره وکړئ او له ښځو څخه وېره وکړئ

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمايلي يې دي: «په حقيقت کې دنيا خوږه او شنه ده، او الله تعالی پکې تاسو مېشتوي، تر څو وګوري چې څه کوئ، نو له دنيا څخه وېره وکړئ او له ښځو څخه وېره وکړئ، ځکه چې د بني اسرائيلو لومړ فتنه په ښځو کې وه».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې دنيا په خوند کې خوږه او په نظر کې شنه ده، نو انسان پرې دوکه کيږي او پکې ور ډوبيږي او هغه يې خپل لوی غم ګرځولې ده. او الله جل جلاله له موږ څخه ځينې په دې دنيوي ژوند کې داسې ګرځولي دي چې يو د بل ځای ناستي کيږي، تر څو وګوري چې څه کوو، آيا طاعت يې کوو که نافرماني يې کوو؟ بيا يې وفرمايل: پام کوئ چې دنيا مو په لذتونو او زينتونو دوکه نه کړي، ځکه هغه کارونه به درباندې وکړي چې الله تعالی يې درته د پرېښودلو امر کړی او په هغه څه به مو اخته کړي چې ترې يې منع کړي ياست. او د دنيا له سترو فتنو څخه چې ځان ترې بايد وساتل شي د ښځو فتنه ده، او دا لومړ فتنه وه چې بنی اسرائيل پکې ښکېل شول.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3053

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee